# تاسو اړ نه یاست چې د کرکې زغملو ته دوام ورکړئ



د ناټینګهم ښار پولیس او سیمه ییز چارواکي د کرکې جرمونه او د کرکې پېښې په جدي توګه څېړي.

**راپور ورکړئ:**

**بیړني حالت:** 999 ته زنګ ووهئ
**غیر بیړني حالت:** 101 ته زنګ ووهئ
**آنلاین:**
www.nottinghamshire.police.uk/hatecrime or
www.nottinghamcity.gov.uk/hatecrime

ناټینګهم ښار پولیس QR کوډ

د ناټینګهم ښاروالی شورا QR کوډ

**شته ملاتړ (Available Support):**

Nottinghamshire Victim CARE د ناټینګهم ښار او ناټینګهم ښار ټولو اوسېدونکو ته — حتی هغو کسانو ته چې لنډمهاله استوګنه لري — وړیا، خپلواکه او محرم مرسته برابروي. دا مرسته د هر شخص د انفرادي اړتیاوو له مخې برابرېږي.

**مرستندوی تلیفون:** 0800 304 7575 ویب پاڼه:
www.nottsvictimcare.org.uk

هر هغه څوک چې معلولیت یا ناروغي لري او د پولیسو سره د اړیکې په وخت کې د خبرو یا اورېدو ستونزه لري، کولای شي د Pegasus Scheme لپاره ځان ثبت کړي. نور معلومات دلته تر لاسه کولی شئ:
www.nottinghamshire.police.uk/pegasus

PEGASUS
جولای ۲۰۲۵

## ۶ حقایق د کرکې د جرم د راپور ورکولو په اړه

**1.** ټول د کرکې جرمونه او د کرکې پېښې مهمې دي.

**2.** تاسو ته اړتیا نشته چې د انګلیسي ژبې پوهه ولرئ څو د کرکې پېښه راپور کړئ.

د ناټینګهم ښار پولیس او سیمه ییز چارواکي د کرکې جرمونه او د کرکې پېښې جدي نیسي. موږ تل اقدام کوو کله چې تاسو راپور ورکوئ. هره پېښه چې وي، موږ به یې ثبت کړو، د کرکې د جرم د خطر ارزونه (Hate Crime Risk Assessment) ترسره کړو، او د قرباني ملاتړ (Victim Support) برابر کړو.

دا ډېر مهم دی چې د کرکې پېښه راپور کړئ، حتی که تاسو نه پوهېږئ مجرم څوک دی یا شواهد نه لرئ. د کرکې د جرم راپور ورکول کولای شي:

- دا پیغام ورسوي چې تاسو د کرکې جرم نه زغموئ.
- پولیسو سره مرسته وکړي څو وضعیت ښه درک کړي، حتی که هغوی د هماغې پېښې په اړه نور اقدام ونه شي کولای.
- پولیسو او شورا ته مرسته وکړي چې سرچینې او هڅې هلته متمرکزې کړي چې اړتیا ډېره ده.
- مرسته وکړي چې دا ډول پېښې له نورو خلکو سره تکرار نه شي.

تاسو ته اړتیا نشته چې د برېتانیا تبعه (British Citizen) وئ څو راپور ورکړئ. د ناټینګهم ښار پولیس کولای شي د تلیفون پر مهال د ژباړن خدمتونه (interpreter services) برابر کړي.

تاسو یوازې باید ووایاست چې په کومه ژبه خبرې کوئ – لکه عربي، روماني او نورې. کله چې تاسو په مستقیم ډول د پولیسو په مرکز کې راپور ورکوئ، هم همداسې کولای شئ. ممکن د ژباړن د وصل کېدو لپاره څو دقیقې وخت ونیول شي؛ مهرباني وکړئ د خاموشۍ له امله ناهیلي نه شئ. ځینې وخت ممکن ژباړن په هماغه وخت کې موجود نه وي، که په هماغه وخت کې ژباړن شتون ونه لري، موږ به هڅه وکړو چې له تاسو سره هغه وخت اړیکه ونیسو کله چې ژباړن موجود شي.

که تاسو کاڼه، د اورېدو ستونزه لرئ، یا د وینا ستونزه لرئ، نو کولای شئ د بیړني پیغام (Emergency SMS) خدمت لپاره ځان ثبت کړئ.
د دې لپاره، یوازې «register» ټکي 999 ته واستوئ او د لارښوونو تعقیب وکړئ.

## 3. تاسو تل کولای شئ د قرباني ملاتړ ترلاسه کړئ.

د قرباني ملاتړ ترلاسه کول ستاسو حق دی، او تاسو ته اړتیا نشته چې حتماً پېښه پولیسو ته راپور کړئ. Victim CARE به تاسو ته وړیا ملاتړ درکړي، حتی که تاسو پولیسو ته راپور نه وي ورکړی. تاسو کولای شئ مستقیم ورسره اړیکه ونیسئ.
که وروسته پرېکړه وکړئ چې غواړئ پولیسو ته راپور ورکړئ، هغوی به ستاسو سره مرسته وکړي — خو پرېکړه ستاسو ده.

د Nottinghamshire Victim CARE وړیا کرښه: 0800 304 7575 ویب پاڼه:
www.nottsvictimcare.org.uk
www.nottsvictimcare.ora.uk

## 4. دا یوازې د تاوتریخوالي یا جدي جرمونو لپاره نه دی

د کرکې جرم (Hate Crime) هر هغه مجرمانه عمل ته ویل کېږي چې قرباني یا بل څوک یې داسې درک کړي چې د دښمنۍ یا تعصب له مخې ترسره شوی وي، لکه:

- نژاد (Race) – پکې تابعیت، مهاجرت حالت او توکم شامل دي.
- معلولیت (Disability) – فزیکي یا ذهني.
- مذهب (Religion)
- جنسي تمایل (Sexual Orientation)
- د جنسیت هویت (Transgender Identity)
- ښځینه ضد تعصب (Misogyny)
- بدیله فرعي کلتور (Alternative Subculture)

د پولیسو غبرګون به د قرباني له اړتیا سره سم وي. پولیس به له تاسو سره خبرې وکړي مخکې له دې چې اقدام وکړي — او د مجرم سره د خبرو کولو سره هم.

تاسو کولای شئ د کرکې پېښې (Hate Incidents) هم راپور کړئ، حتی که جرم نه وي شوی.

## 5. تاسو کولای شئ د کرکې جرم راپور کړئ، حتی که د هدف شوې ډلې غړی نه یاست.

تاسو ته اړتیا نشته چې ځان د یوې ځانګړې ډلې غړی وبولئ څو د کرکې جرم تجربه کړئ. بېلګې: د سیک مذهب سړي کېدای شي د اسلام ضد سپکاوي هدف وګرځي.
د مخالف جنس پالو (Heterosexual) خلکو سره هم کېدای شي د هم جنسبازۍ ضد کرکه وشي. یو څوک کولای شي یو وخت کې له څو ډولو کرکې سره مخ شي – لکه یوه ښځه چې حجاب لري، هم د اسلام ضد کرکې او هم د ښځینه ضد تعصب هدف کېدای شي. که دا ډول پېښه وشي، پولیس به ټول جرمونه او پېښې ثبت کړي.

د ناټینګهم شر پولیس به هر ډول د کرکې جرمونه وڅېړي. موږ به د تاسو هویت (لکه مذهب یا جنسي تمایل) هېڅکله له اټکل څخه ونه ګڼو.

## 6. راپور کولای شي هم د قرباني له خوا وشي او هم د شاهد له خوا.

تاسو ته اړتیا نشته چې خپله تجربه کړې پېښه راپور کړئ — تاسو کولای شئ د دریم شخص (Third Party) یا شاهد په توګه راپور ورکړئ. بیړني حالت: 999 غیر بیړني حالت: 101 تاسو کولای شئ د آنلاین چټ (Online Chat) له لارې هم راپور ورکړئ.
تاسو کولای شئ بې نومه (په پټه) د لاندې ویب پاڼو له لارې د کرکې جرم راپور کړئ: fearless.org که تاسو دا لاره وکاروئ، نو تاسو به د قضیې د پرمختګ تازه معلومات (updates) ترلاسه نه کړئ. خو پولیس به دا راپور ثبت کړي، ځکه دا ډول معلومات د هغوی سره مرسته کوي چې هغه سیمې (hotspots) وپېژني چې د کرکې پېښې پکې ډېرې دي، او د خپلو سرچینو تمرکز هلته وکړي. موږ د کتونکو (bystanders) هڅونه کوو چې هر هغه د کرکې پېښه راپور کړي چې هغوی یې شاهد وي.

د برېټانوي اشاروي ژبې (British Sign Language) ویډیو د "What is Hate Crime?" د لیدلو لپاره، مهرباني وکړئ دا پاڼه وګورئ:
www.stophateuk.ora/british-sian-/language-video-on-what-is-hate-crime

Pashto